# نوی کال دې مبارك وي؛ خو له نويو بدلونونو او پرمختګونو سره

دا ليکنه به د افغانستان درنو خلکو ته د نوي کال په مبارکيو پيل کړو. هيله ده چې نوی کال د افغانستان له پاره د سولې، تفاهم، وروروليۍ،ملي يووالي، امنيت، ثبات او پرمختګ کال وي!

د نوي هجري – شمسي کال لمانځنه زموږ په هيواد کې لرغونی تاريخ لري او له اسلام څخه مخکنيو پيړيو ته رسي. خلك د دې ورځې له پاره ځانګړې ترتيبات نيسی، خپل کورونه څندي، اووه ډوله ميوي او خواږه برابروي، نوي نيالګي کينوي، ګلان ږدي او ځانونه پسرلني کرکيلي ته چمتو کوي، ځوانان د خوښيو ميلې جوړوې، ښځې زيارتونو ته ځي او د ښه راتلونکي له پاره دعاوې کوي او نذرونه نيسی او داسې نور.

په افغانستان کې اوسنی نوروز، د نوروز د فرهنګي جغرافيا د نورو هېوادونو او ولسونو په شان، رسمي دودونه هم لري. د مزارشريف د سخي شاه مردان جنډه پورته او ځلوبښت ورځې ميلی جوړيږي، په کابل کې د سخي زيارت او د کابل منډيي جنډې پورته او د بزګر جشن لمانځل کيږي، په بغلان کې د امام قطيبه، په کندهار کې د شاه آغا او په سرپل کې د امام يحيی جنډی پورته کېږي او داسې نور چې شرح يې وخت غواړي.

له دې دوديزو او رسمي غونډو، ميلو او جنډو څخه چې تير شو، نوروز د ساړه ژمی او يو هجري – شمسي کال پای او د بل هجري – شمسي کال پيل دی او په لمانځلو او درناوي ارزي. د افغانستان د خلکو تجربې ښودلې چې د نوي کال په راتګ سره انسانان، نباتات او ټوله هوا او فضا بدلون ته چمتو کېږي، د خلکو په وجود کې د کارونو د پيل هيلې ګړندۍ کيږي او ځوانان يو ښه نوي کال پيل ته ليواله ښکاري.

په افغانستان کې له بده مرغه تير نژدې ځلوبښت کلونه په جګړو او خونړي تاوتريخوالي کې تير شوي. پرله پسې کودتاګانو، کورنيو جګړو، پرديو يرغلونو، د ګاونډيو لاسوهنو او د تش په نامه مشرانو بی کفايتی او بد مديريت، خلك په رښتيانی توګه نه د اخترونو خوند ته پرېښې، نه په نوروز سم پوهيږي او نه د ژوند له نورو شيبو څخه داسې خوند اخستی شي، لکه څنګه چې خدای(ج) ورته د نعماتو په توګه پيدا کړي او د نورو انسانانو په شان يی وړ دي!

په افغانستان کې د محمد داوود خان د جمهوري دولت له سقوط څخه وروسته، ټول سياسي، دولتي او مذهبي مشران خدای او خلکو ته ګرم( ملامت) دي. ټولو د ځاني، تنظيمي، سمتي او بهرنيانو د ګټو له پاره توري وهلي، خپل خلك يې وژلي، خپلې ريښې يې پرې کړيځ، خپلې مادي او معنوي شتمنی يې په اوبو لاهو کړي او داسې څه يې کړي چې هيواد، د اوسنی روان خونړي سيل په څپو کې لالهانده دی او هيڅوك نه پوهيږي چې څه به کيږي؟

ښکاره خبره ده چې د افغانستان ټول خلك يو ښه، امن او خير نوي کال ته په تمه دي؛ خو سياسي – پوځي شرايط داسې دي چې دا کال به هم د تېرو کلونو په شان خونړی او بې خونده وي.

نوروز يا د نوي کال لومړی ورځ يوه بله ځانګړتيا هم لري او هغه دا چې تير کال او نوي کال تر مينځ بيلونکی کرښه باسی.

داسې مناسبتونه او ورځې معقولو انسانانو ته موقع په لاس ورکوي چې خپل تېر يو کلن ژوند ته ځغلند نظر وکړي، د خپلو اعمالو بيلانس جوړ کړي، سر خپل ګريوان ته ښکته کړي، خپل ښه او بد اعمال وتلي، خپل وجدان قاضي وګرځوي او ځان خپله محاکمه کړی، معقول انسانان له داسې محاکمې وروسته، خپل نوي کال ته چمتوالي نيسي او هڅه کوي چې په نوي کال کې بدل شي، ښه شي، معقول شي او په خپلو تورو او ناوړه اعمالو باندې پښيماني څرګنده کړي.

اوس چې په افغانستان کې نوی ۱۳۹۷ هجري شمسي کال پيلدونکی دی، موږ ټولو افغانانو ته، د تير کال د ښو او بدو اعمالو دبيلانس جوړول په کار دي. دا بيلانس له ولسمشر داکتر محمد اشرف غني او د ده د مرستيالانو، تنظيمي مشرانو، اجراييه رييس، مشاورينو، وزيرانو، واليانو، سفيرانو، امنيتي او ملکي چارواکو، جهادي قوماندانانو او مافيا څخه پيل او په هغه وروستی افغان پای ته رسي چې د بدخشان د واخان په وروستني سرحدي ځای کې اوسي. هر څوك بايد د خپل تير کال اعمالو ته وګوري، خپل وجدان، که ويده نه وي، قاضي وګرځوي او ځان خپله محاکمه کاندي.

دا خلك مخصوصاً دولتی او مذهبي مشران خدای او خلکو ته ډېر ګرم دي او داسې فکر نه کيږي چې دوی به اخروي نيکمرغۍ ته ورسي؛ ځکه چې ځانونه يې دلته په دنيا کې ډېر ماره کړل، ډېرې شتمنی يې غضب کړي او آخرت ته يې څه پرې نښودل؛ خو که دې ته وګوري چې عمرونه يې اوس ډېر نه دي پاته او د نوي کال په لومړی ورځ د خپلو تورو اعمالو اوږده لست ته وګوري؛ نو يقين به وکړي چې يوه ورځ به د اعمالو له توری پاڼی سره د نياو (عدالت) په دربار کی سرکوزی ولاړ وي!!

هيوادوالو نوي کال مو د حتمي بدلون او پرمختګ په هيله نېکمرغه او مبارك شه! راځئ چې هر يو د سباني افغانستان د غوړيدا او نيکمرغۍ أه پاره، زړونه او لاسونه سره يو کړو او د هېواد د ژغورنې له پاره زاړه هوډونه يو ځلې بيا نوی کړو او په مخ وخوځو!

بريالیتوب به د هغه چا په برخه وي چې که زر ځلې په ځمکه لوېږي، بيا پاڅېږ.

احسان الله «آرين زی»